د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي: سلام ته ځواب ويېل، د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې پسې تلل، بلنه منل، او د پرنجي پر مهال ورته (يرحمک الله) ويېل

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اورېدلي دي چې ويل يې: "د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي: سلام ته ځواب ويېل، د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې پسې تلل، بلنه منل، او د پرنجي پر مهال ورته (يرحمک الله) ويېل".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو مسلمان په خپل مسلمان ورور باندې ځينې حقونه بيان کړي دي. له دغو حقونو څخه يې لومړی دا دی چې سلام ور وګرځوي چا ته چې سلام درته واچوي. دويم حق: د مريض پوښتنه کول او زيارت ته يې ورتلل. دريم حق: جنازې پسې يې له کوره تر هديرې پورې تلل تر دې چې دفن شي. څلورم حق: د بلنې منل کله چې بلنه ورکړي لکه د واده وليمې او يا داسې نورو ته. پنځم حق: پرنجي کوونکي ته ځواب ويېل: داسې چې هغه کله د پرنجې پر مهال الحمد لله ووايي نو ورته ووايي چې: يرحمک الله (الله دې پر تا رحم وکړي) بيا به پرنجی (کوونکی ووايي: يهديکم الله و يصلح بالکم (الله تعالى دې تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو حال دې سم کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3706